شفق
SHAFAQ



شفق SHAFAQ

بسم الله الرحمن الرحیم

ارگان نشراتی حزب اسلامی افغانستان کمیسیون ارشاد فرهنگ سال تاسیس ۱۳۵۹ هـ ش

دوردوم سال چهارم شماره دهم ویازدهم ثور وجوزای سال ۱۳۶۸ هـ ش

یا یها الذین امنوا اتقوا الله وقولوا قولا" سدیدا ○ یصلح لکم اعمالکم و یغفرلکم ذنوبکم ومن یطع الله ورسوله فقدفا زفوزا عظیما ○ انا عرضنا الامانة علی السموات والارض والجبال فابین ان یحملنها واشفقن منها وحملها الانسان انه کان ظلوما جهولا ○

لیعذب الله المنفقین والمنفقت و المشرکین والمشرکت ویتوب الله علی المؤمنین والمؤمنت وکان الله غفورا رحیما ○ ع

* ای مؤمنانو! دهغوخلکوپه شان مه کیږی چی هغوی موسی علیه السلامته اذیتونه رسولی وو، بیا الله دهغوی نه جوړوکړیوخبرونه هغه ته براءت ورکړ، اوهغه دالله په وړاندی عزتمندوء .

ای مؤمنانو! له الله نه وویریږی او سمه خبره کوی .

الله به ستاسی عملونه سم کړی اوستاسی ګناهونوځخه به درتیرشی. هرڅوک چی دالله اودهغه درسول اطاعت وکړی هغه لوی بریالیتوب ترلاسه کړ، مونږچی دغه امانت اسمانونوځمکی اوغرونوته وړاندی کړنوهغوی یی پورته کولوته تیارنشول اوورڅخه وویریدل، خوانسان هغه پورته کړ بیشکه هغه غټ ظالم او جاهل دی .

دامانت ددغه پیتی پورته کولولازمی نتیجه داده چی الله منافقونارینه وءاوښځو، اومشرکونارینه وءاوښځوته سزا ورکړی اودمؤمنونارینه واوښځوتوبه قبوله کړی، الله بخښونکی اورحیم دی .

آنچه درین شماره میخوانید :

پیغام شفق ....

۱- اوضاع فعلی انقلاب ومکلفیت های ما ....

۲- امریکادافغانستان داسلامی انقلاب په وړاندی څه کوی ....

۳- دحزب اسلامی افغانستان دمجاهدامیروروحکمتیار د ....

۴- دجنګ په ډګرکی دیوه کشمیری مجاهدسترګولیدلی حال ....

۵- غزوه فتح الاعظم ....

۶- تربیت زن مسلمان درپرتوقرآن وحدیث ....

۷- سفرجهادی ....

۸- سنمهایی ازخون بهاران انقلاب اسلامی ما ....

۹- افغانستان په تیروعیسوی میاشتوکی ....

۱۰- دمورچلونوخبرونه ....

۱۱- معرفی مختصر شهیدان راحق ....

مدیر مسئوول : محمدمعروف "فروغگر"

معاون : مولوی محمدنعیم "تائب"

آریانا آفسیٹ - پرنٹرز

PROPERTY OF ACKU

پیغام شفق

اوضاع فعلی انقلاب ومکلفیت های ما

* * * * * * * * * * * * * * *

درجریان یازده سال جهاد مسلحانه ملت مؤمن ومجاهد ما، مشکلات زیادی بر سرراه انقلاب اسلامی عرض اندام کرد، توطیه های پی هم ومتعددی علیه جهاد ومجاهدین صورت گرفت، تا باشدکه این سیل خروشان عزم وایمان را بارکود مواجه ساخته باشند، درگیری های عظمت طلبانه وخودبزرگ بینانه یی درصفوف جهاد ما رونما گردید، ونتایج تلخی که از ناحیه استبداد دشمنان وتنگ نظری دوستان برملت ما تحمیل شد، واقعا" درخوراشک ریزی است، اما با این همه نارسا ییها، چون معتقدیم که هرانقلاب نقطه های ضعفی ازخودداشته می باشد، این نقطه های ضعیف ووحشت روزافزون دشمن نتوانست چرخ تصمیم انقلاب اسلامی را بعقب برگرداند واامواج توفنده وسرکش آن روزتا روزسنگرهای حاکم دشمن را، در هردوبعد، دربعدنظامی ودربعد اطلاعاتی وسیاسی، یکی بعددیگرزیرورومیکردوبه پیش میرفت تا آخرین سنگردشمن را فتح کند وفاتحانه به کارنوسازی اش ادامه بدهد.

ولی درین اواخر که چشم امید همه بطرف بزرگان جهاد است وهمه ملت انتظار کشایش دری را دارندکه قیادت واحدی از آن سربرون کند، سازشهای وسیعی به سطح ملی وبین المللی علیه انقلاب اسلامی ما به راه می افتد، مثلث شوم هندوایزم، کمونیزم وصهیونیزم درصدد تثبیت نقشش درمنطقه وجهان هست که اکنون نوبت آن رسیده است که با زدوبندهای وحشیانه اش درراه انقلاب اسلامی ما مشکلاتی وموانعی را ایجاد کنند، موانعی راکه مسیر این انقلاب را به بیراهه کشانند، طوری که خیلی ها واضح است، که بعدازانسحاب قوای روسی ازافغانستان ارتش هوایی هندی جای آن ها را پرکردواین دوغول دیگرقضیهٔ افغانستان را منحیث حلقه وصل ونزدهم آیی درروی تختهٔ مشق وحشیانه شان به کارگرفته اندوبا تمامی نیروو قدرت میکوشند، انقلاب اسلامی درهمین راه پر خونی که درطول یازده سال آزمون و مبارزه بهترین نخبه گان وفرزندانش را ازدست داده است، که همین راه برای رسیدن به سرمنزل مقصود، خواسته صددرصد ملت است، چنان دفن شود که دیگرنامی از آن گرفته نشود، کاروفعالیت درین زمینه با تمامی آب وتابش به پیش می رود ودستگاه های تبلیغاتی کفرجهانی ودرراس رادیو بی،بی،سی وعوامل آن درجهت تبلیغ وتصمیم سلبی وایجابی این توطیه شب وروزمصروف کاراست.

ازطرفی عمدا" اسبابی روی دست گرفته می شودکه با معرفی نقاط ضعف مجاهدین که آن قدردرخورتوجه نیزنمی باشد چنان بزرگ نشان داده شودکه گویا روال کارقضیه افغانستان را بصورت کلی تغییربدهد خلاصه استعمار میخواهد که درمراحل پیروزی نهایی انقلاب اسلامی ازکوچکترین حربه یی نیزدرراه عقیم نمودن این انقلاب کاربگیرد و آن رادرمحافل سیاسی ومجامع ملی و بین المللی طوری مطرح سازدکه گویا مجاهدین ازمقبولیت عامهٔ مردم افغانستان برخوردارنیستند، باید حکومتی درافغانستان روی کاربیایدکه تجاران همه ایدیولوژی های غیراسلامی (ازقبیل کمونست های درگیرجنگ، کمونستهای تیپ چینایی ونشنالیست های پشتووفارسی (افغان ملتی ها وستمی ها) ظاهرشاهیان وآن همه گروهکهای بی هویت ومزدوری که ازآغاز

کار به اصطلاح انقلابی ! شان معروف وطن فروشی وتخریب دین هستندوحتی نفسی هم درراه آزادی کشورونجات ملت مظلوم افغانستان نکشیده اند) در آن دکان داشته باشند !!! .

لذا جاهرنظرداشت جناحهای تخریبی انقلاب اسلامی وادار به این می شویم که یکبار دیگر صدای مان را بگوش هوش مسئوولان امور ودر مجموع به قیادت جهادی وهمهٔ ملت وارسته ومظلوم مان برسانیم :

الف : اوضاع فعلی که هرکس درخور استعداد بشری اش خطرات آن را میداند وبه عمق فاجعه راه میبرد مستلزم آن است که دیگر وحدت قیادت مجاهدین، چه درفورم ائتلاف یا اتحاد وچه درشکل حکومت کما فی السابق به سردخانه های فراموشی تحویل داده نشود، چه دراین شرایط وقت آن رسیده است که جزئیترین تخطی و اشتباهی میتواند انقلاب ما را به سرنوشت شوم انقلاب الجزایر وسرنوشت بدفرجام آن نیست که بعد از فیصلهٔ اکثریت و انتخابات اعضای شورای حل وعقد و قناعت فرد، فرد برنده وبازنده !

حرکاتی از ما صادر شودکه درمجموع وقار انقلابی ما را موردسوال قرار میدهد ...

ب : تز انقلاب اسلامی ما که واقعاً درعصرحاضر، درجهان نظیری ندارد، تزی است که از طرف افراد سرشناس، دانشمند، کارآگاه، مدبر وانقلابی کشورما پیشنهاد وبمنصهٔ عمل گذاشته شده است، فرد، فرد ملت مؤمن ومجاهدما، افرادی که واقعاً به محرک وانگیزهٔ ایمان به جهانبینی اسلامی درآن سهم گرفته اند درآن حصه وسهم لازمی گرفته است، قربانی داده است ومنتظرآن است که سعیش درپیاده شدن حکومت اسلامی در کشورمشکورشود، شکوفایی این تزکاریک تنظیم، یک جنبش ویک نهضت نیست، لذا خیلی وقیحانه واحمقانه خواهدبودکه فقط یک منظمه دربرابرهمهٔ ملت ایستادگی کندوبگویدهرچه هستم منم یک فاکتورموجود درانقلاب اسلامی، نارسایی فکری مدعی را نسبت به جهانبینی اسلامی میرساند، چه اگرما باروادار ی کامل اخوت اسلامی گردهم جمع شویم وبرقیام حکومت اسلامی درافغانستان فایزآییم، هیچ مشکلی نیست که بفضل خداوند دربین ما حل وفصل نگردد، زیرا اسلام حقوق همه افرادمسلمان رایکسان اهمیت قایل است ....

ج : بسیج نیروهای نظامی زیریک قوماندہ، کاری است که دراین شرایط حساس انقلاب اسلامی سفریکساله ما را در دوماه، سه ماه خلاصه میکند، طوری که دیده میشود، مجاهدین اکثرولایات بعد ازخروج قوای روسی ازافغانستان، هیچ گونه ابتکارجنگی ازخودنشان نداده اند حتی پوسته هایی که درگردونواح آنها موقعیت دارندکماکان موجودهستندو نسبت به پیش، خیلی ها احساس آرامش میکنند ..

این کار از سه حال خالی نیست :

یک : این که عمداً دست به عملیات بر

درحدیث پیامبراسلام صلی الله علیه وسلم آمده است که معنی عصبیت و قوم پرستی این است که کسی قومش را درعمل ناروا تاییدوپشتیبانی کند، درحدیث دیگری می آید : هرکه باظالم وتجاوزگربه این خاطرکه او را تقویه کندوازاوپشتیبانی نماید، درحالیکه این را هم میداندکه او تجاوزگراست همراهی کند، بدون شک ازاسلام خارج شد ...

قیام مسلمانان آسیای مرکزی دوچار سازد ویاکشورما را به خطهٔ آتش دیگری مبدل سازد که تشبیه آن با لبنان کاری باشد مضحکه آمیزومسخره ! زینرو باداشتن تجارب تلخی که ازاتحادهای شکلی گذشته داریم، دراین روزها، وضع چنان مینماید، که این تشکل اخیرنیزبه طاقی گذاشته شودکه اتحادهای قبلی گذاشته شده بودند !!! نه تحرکی است ونه نشاطی، نه تصمیمی است، نه پلانی نه برنامه یی است ونه عملی، همه عبوس وگرفته معلوم میشوند، معلوم میشودکه باز هم ملت ما منتظریک آیندهٔ مبهم وناپیدا بمانند، لازم است از این فضای بلا تکلیفی بیرون شویم وباچیزی که فیصله کرده ایم وبه ملت مجاهدمان وعده داده ایم مصرباشیم وبانشاط تازه یی واردکارو پیکار انقلابی شویم میپذیریم که درهر تشکل وسازماندهی انقلابی نقایصی وجود داشته میباشد، ولی این خلابه معنای

وبرای فقط تبارزدادن نه منظمه اش، بلکه خودش، تزی را بمیان کشدکه از آن بوی جاهلیت به استشمام میرسدوبرای تبلیغ این تزیک چندتا چاپلوس ذلیل افرادمزدورکوردل، عناصررنگ وروباخته وبی خاصیت واشخاصی راکه برای سرد کردن دوزخ شکم شان حاضراندازهرچیز بگذرند، مامورنماید، واضح است که افرادمتملق بجزاین که دربین نیروهای اسلامی تفرقه بیندازندوفصلی ایجاد نمایند هیچگاه حاضرنیستنددربین این نیروها اتفاق ووصلی صورت بگیرد، زینرو خواست ما ازهمهٔ سران مسئوول همین است که این طفیلی های لجن فساد راازخود دوربرانندکه این ها بجزبرادرشیطان دوست وبرادرهیچ کسی شده نمیتوانند (برچشم چاپلوس ومداح خاک بپاشید) وازطرفی دفاع ازارزشهای جاهلی (چون حقوق پشتونها وتاجیک ها، ازبیک وهزاره ها ....) وعنوان کردن آن بحیث پوسته های دشمن نمیزنندوازطرف تنظیم مربوط شان دریافت قوماندہ نکرده اند وغرض بعضی مصلحت های خاص تنظیمی که نمیخواهیم آن مصلحت را دربن جا افشا کنیم (اگردرآینده ضرورت افتاد این کار راخواهیم کرد) به ایشان دستور داده شده است که باقوای مزدوردولت ملحد کاری نداشته باشیدوبه ... آماده باشید .

دو : تطمیع وتمویل بعضی مجاهدنماها وفعالیت گسترده ستون پنجم دشمن در بعضی ازنقاط کشور ...

سه : عدم وحدت وهم آهنگی قیادت جهادی .....

اگرسران مجاهدما باحوصله وسیع انقلابی، درفضای بازاخوت اسلامی برهمه عقده های نامطلوب پانهندو گذشته را نادیده بگیرندوازته دل توام باوحدت همه جانبه شان قوماندهٔ جهاد را توحیدبخشند وروی خریطه وپلان واحد

جنگی کارکنندوآن را درصفوف مجاهدین پیاده نمایند، موانعی که برسرراه پیروزی وفتح مبین قراردارد،رفع خواهدشد، وآنگاه بعیدنخواهدبودکه قدمی دیگری بسوی تشکیل وقیام حکومت اسلامی درافغانستان ،برداریم !!! و بجزازوحدت قیادت وقوماندہ فکرنمی کنیم که تن ازعذاب خدا جل جلاله و رسوایی دنیا وملامت تاریخ بسلامت بریم.

د : قیام حکومت عبوری مجاهدین ضرورتی بودکه هست تاریخی،اجتماعی سیاسی، ومتحرک ، نگهداشتن ارگانهای این دولت ، ملت راازدومصیبت بزرگ نجات میدهد،

۱- ملت مجاهدما باآرزوهای احیای حکومت اسلامی درافغانستان ،اصل اعتماد به‌نفس وقیادت جهادی شان رادر دل وجان میپرورندوسمپاشیهای روانی وتبلیغاتی دشمن نمیتواندفضای سیاسی کشورما راآگنده ازیاءس کند ، همه‌نسبت به‌آینده مطمئن میشوند ودرانجام هرکار وعمل انقلابی نشاط و دلگرمی خاصی نمودارمیشود، که‌این نشاط ،نشانه‌یی است ازسازنده گی یک جامعهٔ نوین و انقلابی افغانستان اسلامی ....

۲- راه‌بوجودآمدن حکومت منتخب در افغانستان هموارمیشود وآن همه‌تشویش هایی که ازناحیهٔ حکومت های خاندانی استبدادی، کودتایی ومطلق العنانی وطاغوتی، عایدحال ملت ما است ازبرای همیشه رفع میگردد... من بعداگر حکومتی درافغانستان زمام امورمردم رابه‌دست میگیرد حکومتی خواهدبودکه نظربه استعدادایدیولوژیکی وعملی‌اش اعتمادملت راکسب نموده وازراه‌انتخابات بوجودآمده خواهدبود....

ه : حقیقت امراین است که‌اوضاع، بصورت‌کل اطمینان بخش نیست ،باید تجدیدنظری برآن صورت بگیرد، ورنه بیم آن میرودکه نقشه‌ها وعملیات استکبارجهانی برملت مجاهدما تحمیل شودویاکاربه‌منوالی پیش رودکه‌جنگ جهادی ما به‌جنگ جاهلی مبدل گردد و اسباب عضب خدا جل جلاله را بعدازهجرت وجهاد !!!

خود، برای خودفراهم کرده‌خواهیم‌بود..

دراخیرتذکری که‌بایدبدهیم این است که روی سخن ما ، به‌گروه‌خاص ،منظمهٔ خاص وطبقهٔ خاصی نیست ، ما یکبارديگر برائت مان راازتعصبهای جاهلی اعلام میداریم ، واگربااین هم کسی با ما موافقت ندارد ویاسخنان سازندهٔ ما را علیه خودتصورمیکند، مافقط قضاوت را بخودآنها میگذاریم که :

کسی که‌هرآوازاعتراض‌آمیزوبجا را علیه خودتصورکند، حکم‌آن ازروی قرآن چیست ؟ وچه‌خواهدبود؟ آنگاه‌غوغاهای متملقانه وآگنده ازحسدوحقدوغرور و جهالت برما تاثیری نخواهدکردوماهم چنان آوازمان رابه گوش ملت مجاهد و قیادت مجاهدمان خواهیم رساند...

(وما علینا الا البلاغ)



لیکوال: محمدنذیر "بشارت"

امریکا دافغانستان داسلامي انقلاب په وړاندې

پرافغانستان دروس وسلوال یرغل په سیمه اودې سیمې ته په ورڅیرمه منطقه کې دلویدیځ ګټې له مستقیم اومستقیمو خطرونوا وتهدیدونوسره مخامخ کړې.

پرافغانستان باندې دې دروسانوله راختوسره سره مسکودهندتودوا وبوته راوړاندې اوپدې ړول له خیبره دکراچې تربنده ډیرلیږوا تېن ورته پاتې وو . له بل لوري ئې دخلیج طبعي زیرمو ته درسیدو، مهم منزل وواهه اودا پداسې حال کې وچې دایران داسلامي انقلاب په بریالي کیدوا مریکا په هغه سیمه کې خپلې مظبوطې پوځې اوستراتیژیکې اډې له لاسه ورکړې وې، همدا رنګه دافغانستان په پوځې اشغال سره نړیوالولیدل چې د امریکاا ولویدیځ رقیب مسکودخپلې عظمت غوښتنې دتحقق په لوري یوبل ګام واخیست .

که څه هم امریکا دخپلوګټوپه خطرکې لویدل شه درک کول اودهمدې ترڅنګ ئې دویتنام په جګړه کې دروسانوله لاسه دفاحشي ماتي په ګډون دنوروعقبنشینیو دانتقام عقدې یوه څرګنده خبره وه، خو په پیل کې دروسانودیرغل پروړاندې امریکا دشدید عکس العمل ښو دلوته زړه ښه کړای شوای اویوازې ئې پرروسیه دیوې اندازې غلمي اوهم په مسکو کې د اولمپیک په لوبوکې دګډون پرتحریم اکتفا وکړه ، هغوی ددې تصورا وا تېکل نشوای کولای چې افغان ولس به له تولې ناچارې ، بې وسې اومحرومیت سره سره دهغه طاقت په وړاندې مقاومت اومقابله وکړي ، چې څوکاله دمخه ئې دوې ته له خپل ټول طاقت سره سره شرمونکې ماتې ورکړه .

خوچې کله ئې ولیدل دافغانستان مجاهدا ومبارزقوتونه اوټول ولس ،د روسي لښکرومقابلې ته ودریدل اوله پیله ئې روس اوټوله نړۍ ئې پدې پوه کړه چې دافغانستان دپوځې اشغال مسئله په دومره آسانۍ حل کیدونکې نده بلکې روسان په خپل لارکې یوپنولا دی مقاومت اوخونړۍ معرکه په مخ کې لري امریکا دافغانستان له قضیې سره خپله دلچسپي زیاته کړه ، اوبیا چې څومره زموږاسلامي مقاومت آب وتاب وموند ،او څومره روسان په پوځي اوسیاسي بین المللي دوا ړوډګرونوکې له ستونزوسره مخامخ کیدل اوپه مجموع کې دافغانستان قضیې ارزښت اوتودوالی موندهمدومره ئې علاقه اودلچسپي زیاتیدله ،لومړ ی داسې فکراوتبلیغ کیده چې دامریکاد موضع دجدیت عامل دامریکاکورنې سیاسي تحول دی، پدې معنی چې له دیموکراتانو نه اقتدا رجمهوریت غوښتونکوته لیږدیدلی اوجمهوریت غوښتونکي په تیره رونالد ریګان دروس په وړاندې دکلکې اوتوندې موضع پلوی دی، خوورو روسته واقعیتونو وښوده چې ددې بدلون عامل دافغانستان دقضیې هغه ارزښت وچې دمجاهدینو دعظیم مقاومت اومبارزې ورپه برخه کړ، اوامریکایان خپله وائې چې یوه له هغومسئلوڅخه چې جمهوریت غوښتونکې او دیموکراتان ئې په وړاندې په بشپړه توګه یوړول موضعګیری لري دافغانستان بحران دی .

امریکادافغانستان په قضیه کې داسلام دمتعهدوانقلابیونودبنسټیزنقش له واقعیت سره پداسې حال کې مخامخ شوله چې په ایران کې ئې دیوه اسلامي انقلاب دبریالیتوب اودهغوی دفکری ،سیاسي، مشخصاتوترڅه تجربه له نږدې لیدلې وه اودا تجربه ئې دخپلواستعماري ګټوله پاره بې حده ترخه محسوسوله ،امریکا پداسې

حالت کي واقع شوه چي له یوی خوا له خپلو هغو هدفونو چي پاس ورته اشاره وشوه د دفاع لپاره د روسي د پوځي هجوم مقابلي ته ضرورت لري، له بل لوري گوري چي د افغانستان د مسلمان ملت له مبارزي سره د ملاتړ په اعلان په اسلامي امت د ریمه شي او د ټولو هغو چا پیریا لونوکي چي له پردي تهاجم او پوځي یرغل سره کرکه لري محبوبیت تر لاسه کوي او کولای شي روس له تبلیغاتي سیاسي لحاظ په انفعالي حالت کي واقع کړي، خو له بل لوري شي کتل چي د دي مقاومت د ملاتړ هغه انقلابیون جوړوي چي د هغوی فکري او مبارزاتي موضع (د ختیځ او لویدیځ) هر نفي او د یوه بشپړ آزاد او خپلواک انقلاب او حکومت په جوړولو ولاړه ده.

امریکا د افغانستان د قضیي په باب دخپلي مرستي او دلچسپي د پیل او بهیر په ترځ کي د دي هلي ځلي هم شروع کړي چي که وکړای شي د افغانستان د مسلمان ملت د مبارزي بنه، جهت، شعار او آرمان واړولي شي، او دي ته د یوی اسلامي مبارزي او اسلامي انقلاب پر ځای د داسي جدوجهد بنه ورکړي چي ټوله او کلي انگیزه او هدف د روسي یرغل او د دي یرغل ختمول وي، ځکه هغوی پوهیدل چي اسلامي مبارزه او انقلاب یو زور، اوږد، او دینامک حرکت دی چي بیلابیل پړاوونه لري او د هر پړاو لپاره ځانگړي خپله طرحه او مواد چمتو کوي، او د روسانو په ماتي نه یواځي ختمیږي نه، بلکي له هغي نه وروسته ټولو مرحلو لپاره خپل پیغام او آرمان لري او د بل طاقت او پردي مفکوري د ځای نیولو لپاره هیڅ ډول خلا نه پریږدي.

ددي لپاره امریکا او ټول لویدیځ به پر له پسي توگه په بیلا بیلو رنگونو او برخو کي پراخي هلي ځلي وکړي (د ټولو پر تفصیل بحث دلته گران دی) چي وکړای شي زموږ د مقاومت له ساحي نه اسلام وباسي خو امریکایان لدي بي خبره وو چي اسلام دی د روس پر ضد د افغان ولس مبارزي او مقابلي ته وینه او روح ورکوي او زموږ مخلص دوستان او زموږ ټول ملت پدی حقیقت نه پوهیده، امریکایان په خپلو دي هدفو کي له سختي ماتي سره مخامخ شول، ځکه تر یوولسکاله جگړي وروسته نه یواځي هغه جهادي قوتونه چي د سوچه اسلامي انقلاب او اسلامي حکومت پر جوړیدو او بري معتقد او متعهد دي کمزوري نشول، بلکي په هر لحاظ د افغان ولس یو پیاوړی او مسلم قوت وگرزید. ان تر دي چي مسکو، نوي ډهلي، واشنگټن، لندن، تل ابیب او نوري ارتجاعي او استعماري ځلي ئي له قوت او عظمت نه دخپلي ویري په علني ځرگندولو مجبور او بیا ئي د ټکولو لپاره تقریباً په یوه جبهه او یوه خط کي ودریدل، همداسي اسلام هم نه یواځي له محتني ونه ایستل شو، بلکي د افغانستان له اسلامي انقلاب له قوت او پرمختک سره ئي به ټوله نړی په تیره اسلامي امت کي د نوی سوز د ایجاد او نوی روح د پو کولو آهنگ گړندی کړ.

د افغانستان د قضیي په باب د امریکا د مرستو او دلچسپی د بهیر له مطالعي نه دا واقعیت په ډاگه دی چي امریکا په هیڅ توگه د مجاهدینو د گړندي او قاطع وروستي بري غوښتونکي نه وه، بلکي غوښتل ئي یواځي له روسانو سره د یوی استعماري معاملي او سازش د شرایطو برابرولو تر حده پوري مخکي ولاړ شي، داسي ټول طرفونه دا غنیمت وگڼي چي روسان په شا ولاړ شي او یو داسي ځوک رامنځ ته شي چي نه مجاهد وي او نه کمونیست. خو د دي حقیقت په پوځل بیا تثبیتیدو، چي حتمي نده ټولي فیصلي په زور او طاقت کوي بلکي د مبارزینو عقیده، تصمیم او د ملتونو اراده کولای شي د ډیرو زورورو دفیصلو لوری په بله کړي د نړی مستضعفینو ولیده چي زموږ مومن مبارزینو او مجاهد ملت خپل مقاومت او جهاد د روسي پوځونو له بي شرمانه وتلو نه را تیر او دادی د نجیب د مزدور رژیم د بشپړ نسکوریدو او پر ځای ئي د اسلامي حکومت د جوړیدو تر درشله په یوره شورا وځواو را ورساوه، همدلته ده چي گوروا امریکا پدی نړاوکی د خپلو پخوانیو هلو ځلو په ناکامیدو سره پراخو شدیدو ناوړو تصمیمونو او عملیاتو لاس پوری کوی.

ددي لړی پیل د پاکستان د مسلمان او د افغان مجاهد ملت د اسلامي مبارزي له اهدافو سره د زړه له کومي مخلص جمهور رئیس جنرال محمد ضیاء الحق شهیدول دی، ټول قراین، حالات، پو مبني او وروستي واقعیتونه د لمر په څیر ثابتوی چي مرحوم ضیاء الحق د امریکا د هغو پلیتو پلانونو ښکار شو، چي د افغانستان د جهاد د وروستي بری او به پدی هیواد کی د مجاهدینو په لاس د اسلامي حکومت د جوړیدو د مخنیوی لپاره ئي تر لاس لاندی لري.

شهید ضیاء الحق او د هغه ملگري د افغان اسلامي انقلاب پر ارزښت او آرمانونو ښه پوهیدل، د هغوی ستره هیله وه چي په افغانستان کي یو داسي مضبوط اسلامي حکومت جوړ شي، چي نه په روس پوري تړلی وی او نه هم په امریکا پوري، بلکي یواځي اتکا ئي اسلام او مسلمان افغان ولس وي، ځکه ددی دواړو متکاو وطبیعي ایجاب له مسلمان پاکستاني ولس سره بشپړ یووالی او پیوستون او د ټولو هغو چانسونو پای ته رسول دي چي ځوک دي د افغانستان خاوره د مسلمان پاکستان پر ضد د توپ د سختي او یا د فشار د آلي په توگه استعمال کړي، هغوی دا تشخیص کړی وه چي پدی سیمه کي د هند د عظمت غوښتني او قواوو د توازن د له منځه تلو د جلوگیری یواځني لار دا ده چي پاکستان د ایران تر څنگ په خپل څنگ کي یو پیاوړی انقلابي اسلامي افغانستان ولري خو دا هدف امریکا ته د منلو نه وه، او لدي امله ئي په ډیره نامردی له شا په وار کولو سره جنرال محمد ضیاء الحق د کازونو او ښو ملگرو دلیبو خوراک کړ.

د پاکستان پوځي اداري "ای، اس، ای" پر ضد چي امریکا د شهید جنرال ضیاء الحق تر مرگ وروسته په کوم ځانگړي شدت تبلیغات پیل کړل، هدف ئي دا و چي وکړای شي دا هم دیوه داسي خند په توگه چي د افغانستان په بحران کي ددوی ناروا لاسوهني په مخ کي پروت دی، لري کړي، او د خپلو وروستیو پرو خطرناکو شیطاني حرکتونو د ترسره کولو لپاره په لاری برابرولو سره دیوه مسلمان ملت د یو نیم ملیون د شهیدانو پر مبارزو او مبارکو هدیرو باندي د خپلو کفري اهدافو د پوره کیدو مارش وکړي، امریکا همدا اوس داسي قدمونه پورته کړل چي په جگړه کي ستونزي را پیدا کړي، غواړي د جگړي په څه اوږدیدو داسي ذهنیت را ولاړ کړي چي گڼي جنگ له کړکیچ سره مخامخ شو او بیا په روس او امریکا تفاهم لپاره مراجعه وشي، پدی لارکي یو شمیر هغو "مجاهدینو!" چي له جهاد سره ئي روا نیدل د وخت د جبر نتیجه ده خطر او شرارت په هیڅ توگه ـ هیرول نه دی پکار همدا ښي باید تر دی پوری تجربی (د ضیاء شهادت) څخه استفادی سره زموږ ملت دقیقاً هره لحظه دی ته متوجه

(۷۱) ...

د حزب اسلامی افغانستان د مجاهد امیر ورور حکمتیار د یوه مطبوعاتي کانفرانس پښتو متن

دحزب اسلامی افغانستان امیر مجاهد ورور "حکمتیار" څوورځې دمخه دجلال آباد جګړې دسنګرونو دلیدو لپاره ترخپل شپږ ورځنی سفر روسته اسلام آباد ته په راستنیدو یوه مطبوعاتي کنفرانس ته په وینا کې وویل :

ما دننګرهار ولایت لس ورځنی تفصیلی دوره درلوده دننګرهار شپږ ولسوالی او علاقه داری مې له نژدې وکتلې، هلته د پولس کلن وحشیانه جنګ اثرات له ورانو کلو کورونو او ویجاړ شوو تانکونو نه څرګندیدل خواوس پدې خاطرچه ملت د

کابل رژیم فوری نسکوریدو ته امیدوار او ډاډه دی او جنګ له اطرافونه مرکزته راټول شوی خلکو دخپلو ځمکو په کرلو پیل کړی اکثره ځمکې بیرته آبادې شوې که څه هم په کلو، با نډوا ووخت نا وخت د بمباری سلسله روانه وی خوولس ورسره عادی شوی او دمنطقې پریښودل نه غواړی دهجرت سلسله صرف له هغو ځایونو نه راروانه ده کوم پیاده جنګ اودتوپونو وټانکونو داندا خت ترتهدید لاندې دی .

دجلال آباددمحاذ حالت ډیرزیات امید وارکوونکی دی چه کله څوک هغه سترستراو مستحکم مرکزونه وګوری کوم چه ددی جنګ په دوران کی مجاهدینو فتحه کړی او دښمن ئې دجلال آباد ښار په تنګه ساحه کې تر شدیدې محاصرې لاندې نیولی په واضح ډول ورته معلومیږی چه دکابل درژیم عمر ډیرلنډ دی دحزب امیرزیاته کړه :

دجلال آباد مجاهدین دیوې لویې حملې لپاره تیاری نیسی چې انشاءالله ډیر ژر به پیل شی ورورحکمتیار دکابل حکومت دموجودیت دمودی داوږدیدو عوامل ته په اشاری سره وویل :

دکابل درژیم دعمر داوږدیدو صرف څو وجوهات وو :

۱– دژمې په یخنی کی دروسی پوځونو انسحاب دکوم په وجه چه مجاهدینو ونشو کړای په سرو منطقو کی درژیم دنسکورولو وروستی عملیات پیل کړی .

۲– ښارونو ته دکابل رژیم ننوتل او له

ولس نه ځا ن ته سپرا وډا ل جوړول ،په نبا رونوکی دولس موجودیت مجا هدین په نبا رونوله حملونه منع کوی اودی ته ئی مجبوروی چه دحملی په ځای اوږدی محاصری ته ترجیح ورکړی .

۳ ـ دمهما توقلت په تیرو پنځو میا شتو کی مونږ دمهما تولـه ستر مشکل سره مخا مخ وو ، ددی مشکل دوجوها توپه هکله له ځه ویلونه ډډه کوم .

دحزب اسلامی امیرزیا ته کړه : طبیعی ده چه دنبا رونودنیولوجنگ له هغی جگړی نه زیا ت مصا رف غواړی کوم چه یوا ځی ددښمن دتنگولوا وهغه ته په هرمنا سب ځای کی دگوزا رورکولولپا ره ترسره کیږی ا .

انشاءالله دکا بل رژیم په هیځ صورت کی نشی پا تی کیدای هغه دبقا هرچا نس له لاسه ورکړی هیڅ څه دهغه دوا م نشی تضمینولای که څوله دنیا مونږ یوا ځی پریږدی اوځولی دروا زی موپرمخ وتړلی شی اوحتی دوستا ن همدردی کمه اودتعاون په ځای منفی تبلیغا ت پیل کړی مونږ په خپل هیوا دکی داسلامی حکومت ترجوړیدو جها دته ادامه ورکوو ، اودکابل رژیم به ویرژررا نسکورو .

دروسی پوځونوله وتلونه پس دهغودوست نما موږ دینوپه سیا ست کی پوره تبدیلی را غلی کوم چه یوا ځی دروسی پوځونو وتل ئی مقصدوء چا منفی تبلیغا ت پیل کړل چا تعا ون کم اویا متوقف کړی اوچا له روسا نوسره پدی هکله مشترکی هلی ځلی پیل کړی چه دمجا هدینو په لاس دیوه اسلامی حکومت په ځای په افغا نستا ن کی دبهرنیوطا قتونوله خوښی سره سم حکومت تا سیس شی .

ځنونورودکا بل رژیم په نفع تبلیغا ت پیل کړل چه گویا هغه سوله غواړی ، او مجا هدین دجگړی دادا می با عث دی او د جنگ له لیا ری دکا بل رژیم نشی نسکور ولای !!!

حا ل داچه ددی جنگ دشروع اوادا می با عث همدا دپردیو په لاس قدرت ته رسیدلی رژیم که نجیب له اقتدا رنه لاس واخلی وسله په ځمکه کیږدی په کلو ،با نډوبمبارۍ متوقف کړی دسکا دمیزا ئیلونوله اندا ختو نونه منصرف شی او افغا ن ولس ته موقع ورکړی جنگ پای ته رسیږی .

اوپه افغا نستا ن کی سوله قا ئمیږی دا د کا بل مزدوررژیم دی چه دخپل کړغیړن اقتدا رلپا ره دجنگ دادا می سبب گرځی اوهره ورځ په سلگونو افغا نا ن په خپلو وینوکی لت پت کوی .

افغا نا ن دنجیب دسولی ادعا په تمسخر سره ځوا بوی دهغه سکډ میزا ئلونه سولی میزائل گڼی اوهغه دگوربا چوف دنوی تفکر محصول شمیری .

هرورځ په لسها ووسکډ میزا ئلونه فیر کیږی اوپه کلوبا ندودوحشیا نه بمبا ر ی سلسله هومره شدت موندلی چه دگوربا چوف دا قتدا ردلومړی کا ل سره (چه غوښتل یی په همدی کا ل کی له عسکری لیا ری قضیه حل کړی) شبا هت لری ، پدی بمبا ری کی روسی اوهندی پیلوټا ن برخه اخلی .

وروړحکمتیا ر وویل : حتی دا تبلیغا ت کوی چه شا ید دکا بل رژیم دعمردطولانی کیدویوه وجه له حکومت سره دځنوقوماندانانو تفا هم اوسا زش وی دا بی بنسټه پروپا گند دی چه دکا بل رژیم دخپلوا فرادود بـ پریوتی مورا ل داوچتولولپا ره بیـنـر لارا چولی ځوک به دومره سا ده شی چه له داسی رژیم سره په سا زش ځا ن بدنا مکړی چی دنسکوریدو په حا ل کی دی اوهیڅوک ئی دبقا امیدنه شی سا تلای .

اوکا بل رژیم نشی کولای دکوم موثرشخص نوم واخلی حقیقت دا دی چه دروسی پوځونو له وتلونه پس په لسها ووزره دکا بل رژیم مسلح کسا ن مجا هدینوته تسلیم شوی .

روسا ن اوس دکا بل رژیم له بقا نه نا امیده شوی غواړی دنجیب پرځای مخلوع پا چا راولی پدی هکله دانگلستا ن انتلجنت سرویس اودهند حکومت هم له مسکوسره همکا ری کوی :.

دحزب امیرزیا ته کړه : دراوستلونقشه داسی جوړه شوی چه دکندها رهوا ئی میدا ن ددرا نی قبیلی ځنوشا ه پرسته ملکا نوته تسلیم کړی بیا دکندها روالی له دوی سره یوگړای شی اودذی کا رلپا ره وسیع تبلیغات وشی ، اوپدی ترتیب ظا هرشا ه دافغانستان دنا جی په حیث معرفی اودکا بل تخت او تا ج ورته حواله کړی .

دحزب اسلامی امیر څرگنده کړه :چی انشاءالله دا توطیی به شنډیږی او د افغا نستا ن دقضیی حل صرف پدی کی دی چه دنجیب حکومت نسکورشی بهرنی طا قتو نه دافغا نستا ن په داخلی چا روکی له مداخلت نه لاس واخلی .

اوپریږدی چی افغا ن ولس له هرډول بهرنی لاسوهنی ،فشا را وتهدیدپرته د خپلی عقیدی پربنسټ اودخپلوظروفو او شرا یطوله مخی په خپل لاس اوخپله خوښه خپل سرنوشت وټا کی اورا تلونکی ثا بت

اودا یمی حکومت جوړکړی اودا خبره یوځل بیا په ډاگه کووچی نوربه پرافغا نستا ن کی په هیڅ توگه دیوه غیرمنتخب حکومت منلوته تن ورنکړو .

وروړحکمتیا ردکنفرا نس په ترځ کی دیوه خبریا ل دپوښتنی په ځواب کی وویل چی جنرا ل حمیدگل یووطندوست مخلص ،زیا رکښ ،مدبراوجرئتمندجنرا ل هرچیری چی وی موږئی بریالیتوب او سرلوړی غواړو .

وروړحکمتیا ردیوی بلی پوښتنی په ځواب کی څرگنده کړه چی: لودیز آژانسونه دشهیدضیاءالحق (ای،ایس،ای) اوزما پرخلاف پراخ منفی تبلیغا ت کوی گوروبه چی دالله (ج) ارا ده څنگه ده اوله ماسره به څه کیږی خوموږ له هرډول ویر ی اوتشویش نه پرته دخپلی الهی اواسلامی رسا لت ترسره کولوته ادامه ورکوواوپدی لارکی دهرډول پیښی اوحادثی منلوته چمتویو .

* * * * * *

* * * * * *



امام خمینی دمیړانی او همت سمبول

شفیقی

امام خمینی دمیړانی او همت سمبول:

دروان کال دجوز؛ دمیاشتی په (۱۴) مه‌شپه اسلامی نړی له‌یوه سترشخصیت حخه محرومه شوه، پردغه‌نیته‌هغه‌زړه‌ودریدچی په‌ملیونونوزړونوکی یی دآزادۍوندانه اومبارزی روح پوکلی وه، هغه‌بدن له حرکته ولویدچی دشلمی پیړی دوروستی نیمائی ستری پیښی ورسره‌تړلی وې اوهغه‌خوله‌له‌خبروولویده‌چی په‌څو جملویی یو حوملیونی ملت دسربازی او مرگ میدان ته‌حاضرولای شو.

هوکی! دجوزا په (۱۴) مه‌شپه‌حضرت آیت الله‌امام خمینی دایران داسلامی انقلاب لاربشودا وپرهغه‌هیوادکی د اسلامی جمهوریت بنسټ ایښودونکی له‌یو عمر، جهادا وپرله‌پسی‌مبارزی وروسته‌له فانی نړی نه دابدیت په‌لورقدم‌واخیست چی اسلامی نړی اوپه‌خاص‌دول دایران انقلابی ملت یی دستروپرا وماتم‌په‌غولی کیناوه.

امام خمینی هغه‌سترفاتح وء چی له یوی خوا یی دنړی په‌گوټ گوټ کی د مسلمانانوزړونه‌فتحه‌کول هغوی ته‌یی دوروری اوسولی پیغامونه‌لیږل اوپه دی دول یی دروحانیت سترر سالت په ریستونی‌شکل ترسره کاوه‌اوله‌بله‌پلوه یی عملا" دطاغوتی مورچلوپه‌له‌منځه وړلوکی دجهاد دڅرگرته‌ملاتړلی وه.

امام خمینی دشلمی پیړی دمبارزی او میړانی دڅرگرله‌سترواتلا نوڅخه‌گڼلی شی چی په‌ډیره میړانه‌یی د(نه‌شرقی نه غربی) جمهوری اسلامی شعارته‌تحقق ورکړا ودایران دفاسد سلطنتی نظام پرکودلوا وویرانویی داسلامی نظام دیوالونه اوچت کړل، امام سترفاتح وء خونه دا وسنی‌زمانی دفاتحانوپه‌څیر، هغه‌سترا ومحبوب لاربشودو، خودا وسنی عصر درهبرانوا ولیډرانوپه‌څیرنه، امام خمینی بیشکه‌چی دوخت له‌سترومذهبی او سیاسی لیډرانوڅخه گڼلی شی خودهغه ژوند، کړه‌وړه‌اوناسته‌ولاړه‌بیابل رنگ وه چی نه‌یی داوسنی نړی له‌غیراسلامی فعلی لیډرانوسره سرخوړا ونه‌دهغه چارچلندچا د کوم سترفاتح په‌کړووړوکی لیدلی و.

اما مخمینی دایران دانقلابی اومسلمان ملت هغه‌خوږ، هبرو چی په‌دری کربښوراډیو

یی وینا به‌یی دملت تګلوری ټاکه ،هغه
سترروحانی مشرو چی په‌زرګونوسرونه
یی په‌یوه قوماندده دقربانی په‌ډګرپه
خاوروپریوتل ، اودهغه‌دلاس په‌یوه اشاره
ټول ملت کفن پرتن دا زمویښت اوامتحان
ډګرته راووت .
امام دیوه فاتح ملت امام وٶ ،دیوه
برمیال انقلاب بریالی لاربښودوٶ اودیوه
لښکرزړورسرغندوی وٶ ،خودهغه
په‌دنیایی ژوندکی څه‌زرق اوبـــرق ،
هوس اوغرورچاونه‌لیدل ، هغه‌خپل فقیر
ډوله‌ژوندانه ته‌تغیورنه‌کړ ،ســاده
جامی یی په‌قیمتی اوفاخرولباسونـــو
پورته شوی، په‌څومره زورا وشوردا سلام
کلمی په‌فضاکی آزانګی وکړی ، په‌دی‌کی‌د
امام خمینی رول دلمرپه‌څیرروښانه‌دی
که‌نن نړیوال دتوریالی اومسلمـــان
افغان له‌لاسه دروسانوله‌شرمه‌ډکه ماتـــه
دشلمی پیړی معجزه اوخارق العــاده
پیښه ګڼی په‌ځای خبره اویوریښتینـــی
حقیقت دی چی سترربتوریالی اومجاهد
افغان ولس ته دغه‌سترویاړورپه‌برخـــه
کـــړی دی .
خوپه‌هغه‌ایران کی چی په‌خلیج فارس‌کی
دامریکا دژاندارم په‌نوم‌یاديده ،په‌هغه
ایران کی چی امریکایی اواروپایـــی
نړی کی‌ستربدلونونه‌راغلی وای ...:
هوکی ! دامریکا ژاندارم پرامریکایی
ضدهډی اومورچل بدل شودالحاد ،فحشـا
اوبی دینی ځاله دعفت ، حیا اوتقـوی
مرکزشو دسازاوآوازپه‌ځای دآذان او
تکبیرانګازی خوری شوی اودیوی عالمانه .
حکیمانه اوسالمی رهبری په‌نتیجه‌کـی
یومسلمان ملت له‌ابدی ذلت اوغلامی نه
دنجات ،اعتلا، شرافت اوعظمت پرجاده
قدم کیښود، ددغه سترپاڅون اواوښتون
سرلاری یوباوقاره ،دنورانی څیری‌خاوند
سپین ږیری وٶ چی دعصرپه‌دغه مقطع کی
یی یوه ستره‌هنګامه جوړه کړه ،دطاغوت

پیـام تعـزیـت برادرحکمتیـار بمناسبت وفـات
رهبـرعـالیقـدرملـت مسلمـان ایـران :
بسم الله الرحمن الرحیم
بـرادرفضیلـت مـآب حضـرت حجت الاســلام
والمسلمین آقـای خـامنـه‌ای رهبـــرورياسـت
جمهـوری اسلامی ایـران .
السلام علیکم ورحمت الله وبرکاتـــه
به مناسبت ارتحال دردناک حضرت امام خمینـی
قـدس سره ،امام عالیقدروبزرگوارملت بــرادر
ایـران ،رهبرانقـلاب وبنیانګذارجمهوری اسلامی.
مراتب تاٴثرات عمیق ، تسلیت وتعزیت خویـش
رابه نماینده‌ګی ازملـت مجاهدافغانستان خدمت
جناب عالی وملت برادرایران عـرض نموده‌ازبـار
ګـاه احـدیـت برای ایشان مغفـرت ورحمت وبرای
شمـا وهمـه ملـت مسلمان ایران اجرعظیم وصبـــر
جمـیل مسئلت می نمایـم .
پیروزی اسلام بزرګ رابرکفرجهانی وبقــای
انقــلاب راازخدا وندکریم آرزومندیم .
حـکمتیـــار
امیـرحزب اسـلامـی افغانستـان

بدلی نه‌شوی دبنګلواومانیوهوس یـــی
ونه‌کړ ، دسیاحتونواوتفریح مینه‌یی په
زړه‌کی ورونه‌ګرځیده‌چی همدغه‌دا مـــام
معنوی اوحقیقی عظمت اوشرافت وٶ .
اوهغه‌دفتحی اوافتخا راتوپه‌اوج کـــی
له‌اعتدال اوتواضع څخه لاس په‌سرنه‌شـو
اونه ددنیایی ژوندانه دغولوونکـــو
شیانوتراغیزی لاندی راغی .
له‌دی حقیقت څخه سترګی نشوپټولـــی
چی له‌کلونوکلونووروسته‌چی په‌نـــړی
کی په‌کوم شوراوزوردا سلام داعیه‌اوچته
شوه ،په‌کوم عظمت اوهیبت دتکبیرنا ری
عیاشان اوخرمستان به‌دخپلوعیاشیوا و
فحاشیولپاره ورته‌راتلل اوپه‌هغه‌ایران
کی چی له‌بنارا وبازارنه‌یی دالحاد، بی
دینی فحشاٴ وغربی مبتذل تمدن بوی –
خوریده دا سلام بیرغ اوچتیدل اود"نـــه
شرقی، نه‌غربی جمهوری اسلامی" شعــار
رستیانی تحقق هم له‌معجزی کم‌نه‌وٶ چـی
دټولونړیوالوخولی په‌حیرت ورته‌وازی
پاتی شوی اوپه‌سترګویی داسی څه‌لیـدل
چی باوریی نشوپری کولی، که‌چیری پـــه
ایران کی اسلامی انقلاب په‌همغه‌آب او
تاب پاتی وای شایداوس په اسلامـــی
یون‌پرلوړبرج یی رانسکورکړی ،اودا سلام
پراروا پال شعاریی یوځل بیا دیـــــر
کانه غوږونه واورول .
هوکی ! امام خمینی وٶ چی له‌قم نـــه
پاڅیدا وبیا ترهغه‌پوری آرام نشوچی پر
قم یی دا سلامی قیام دبری جشن نـــه‌وٶ
جوړکـــړی. داهم په‌یاد باید ولروچی له
دی ټولوښیګڼواونیکیوسره‌سره امام‌خمینی
انسان وٶ او هغه هیڅکله‌هم‌دسهوی او
اشتباه څخه لوړنشوتصورکولای ،کیدای
شی چی هغه‌ځینومسئلوپه‌رابطه‌داســـی
(۳۰)

دجنګ په ډګرکی دیوه کشمیری مجاهد سترګو لیدلی حال



ربوټ : صلاح الدین کشمیری
ژباړن: عوض الدین "صدیقی"

دکشمیردمظفرآباد رسمی په یوه آرام او ګوښې ځای کی خپلوجذبوا ونظریوته دعمل جامې وراغوستلو په باب دزیات فکروروسته می فکروکړ :

کاشکی ځوورځې په خصوصی ډول په کعبی کی دکعبی درب سره تیری کړم .مګرځو ورځی وروسته می محسوسه کړه چی مریان اوبندیان خودجمعی ،عیداوحج څخه معاف دی ،په فکرکی ډوب وم چی آخردا محکوم اومجبورخلک به ،کوم چی ژوندیی په جیلونو، تانوا ومیروکی تیریږی ددی نعمت لذت دکومه ځایه لاس ته راوړی ، کوم چی په آزادی فضا کی ساه اخیستونکو مسلمانانوته دجمعی ،عیداوحج څخه ورپه برخی شوی ، اوبیا داچی آیا مریان ددی نعمت څخه محروم دی؟ آیا همدا مریتوب دهغوی سزاده ؟ آیا مریانوته دخلاصون او پرمختګ موقع میسره نده؟ پدی ډول فکرونوکی ډوب وم چی دجهاد وقتال پوری اړونده قرآنی آیاتوا ونبوی احادیثوڅخه می یوه اشاره وموندده .څو ورځی وروسته زه دپوځی ژوندیوه داسی مرکزته داخل شوم چی دهغه ځای جسمانی اوروحانی روزنه می دروح دتسکین وسیله شوه پدی ځای کی دپنځلسوورځوترتیرولو وروسته یوه داسی ځای ته ورسیدم ،چی هلته زمادوجوددبقاء لپاره ډوډی پخیده دلمونځونوپه خپل وخت اداکول راڅخه پاتی شول ، تراویح مونه کولی دروژی سره سره ژوندبی خونده و ،کله می چی قرآنکریم خلاص کړ .

"ر. ستاسوڅخه بوج کمه وم اوتاسودعزت اووقارسیمی ته داخلوم"

ددی اشاری ترپیداکولووروسته دوهمه ورځ پشاورته راورسیدم ،اودافغان مهاجرینودجلوزوپه کمپ کی می داتحاد اسلامی په جوماتکی پنځه وخته لمونځ کاوه ، خپل ګران وروراانجنیراحمدشاه ته می وویل : زه دحلال آبادجنګ لیدل غواړم هغه وویل : زماپه نظرتاسوهلته مه ځی ، هلته حالات ډیرخراب دی.

ماخپل مشراومهربان وروته وویل : ګرانه! چیرته چی زمادولس لکه دینی ورونه شهیدان شوی که هلته دجنګ په ډګرکی ماته هم ضرورت ولویږی څه تو پیر به ولری، زه دخپلوافغانی ورونوپه دردا وغم کی شریک یم.

په راتلونکی ورځی کی زه دجلال آباد جنګ ډګرته داخل شوم اوهلته می داتحاد اسلامی په یوی قرارګاه کی دخپل مجاهد وروقومانداان بلال سره خبری پیل کړی شریف النفس قومانداان بلال په انګلیسی ژبه وپوښتل : تاسولومړی ځان معرفی کړی اوبیا ووایی چی دکومی جذبی او احساس په اساس دلته راغلی .

موږدواړه دجنګ په ډګرکی ددښمن د مورچوڅخه (١٠٠٠) متره لری په یوه جوماتکی دماښین لمانځه تراداکولو وروسته خبروبانڈی بوخت وو .

ماخپل ګران کوربه ته وویل : زه دخپل قوم یوکمزوری نماینده یم زه دتاسو دقربانی په اړزښت بانډی پوهیږم.

زه غواړم چی دلته ددښمن په لاسونو ووژل شم ترڅودافغان میړنی قوم مصیبت اوبدبختی کمه شی ، مګرکله که تاسوددی جنګ څخه خلاص شی بنایی زموږدمظلوم اومجبورقوم دخلاصون اوآزادی سبب شی. زمادخبروپه اوریدلوسره هغه په فکرکی ډوب شو.

مابنام می دهغه سره ورستی لیدنه اوروژه ماتی پروخت وشوه ،دروژه ماتی او لمانځه تراداکولووروسته موږچای څکلو اودقرارګاه څخه بهردتوپونواوټانکونو ډزی اوریدل کیدی دی ډزوعجیب حالت انسان ته وربانښه .قومانداان بلال کله چی په دوهمه ورځ دجنګ په ډګرکی جنګ بانډی بوخت وو ماورسره تش دمخابری په وسیلی سره دکولی شوخبری وکړم یو مابنام هغه وویل: ماهمدا اوس ،او س (١٢) پوستی فتحه کړی. ددی ورځی څخه اوه ورځی وروسته هغه بیا خبرراکړ :ماشپږ پوستی فتحه کړی کله به چی موږدمجاهدینو دفتحی خبروا وریدنودکابل رژیم جیټ الوتکوبه دشپی اوورځی دغچ اخستلوپه ډګرکی زمادپنځلسوورځوپاتی کیدوپه موده کی ددښمن الوتکو، توپونوا و ټانکونوپه زرهاوګولی دمجاهدینوپر مورچلووا ورولی، اوماپه کامل اطمینان

سره د ا تولې ورځې تېرې کړې .

دجلال آبا د په جنګ کې کلاشینکوف یې کارم ته نظر را ځي مجاهدین د را کټونو پر ته هغو تا نکونو څخه کار اخلې کوم چې له دښمن څخه یې په غنیمت نیولي، مجاهدینو د دښمن څخه زیاتې وسلې په غنیمت نیولي او دښمن یې د اسې وارخطا کړي چې د څلورو خوا و څخه د مجاهدینو په مورچلو باندې د ا لوټکو، توپونو، او را کټونو مرمۍ اوروي، د دا را وویرې پدې چا پېریال کې مجاهدین د ا سې مطمین دي چې هره لحظه خاندي او د الله اکبر نعرې پورته کوي ما لومړۍ ورځ، څلور ورځې پدا سې حالت کې تېرې کړې چې په زړه کې به مې دعا کوله : اې خدایه ! د بلال قرارګاه په خپل امن کې وساتې، د هغه مجاهدین روغ او رمټ لري، او ما ته دا توفیق را کړې چې د دښمن د را کټونو او مرمیو استقبال ته ورودانګم، مګر څلور ورځې وروسته زما د چا پېل شا نې شوه ما مجاهدینو ته د دعا سره سره ځان ته هم دعا کوله د دې پدلون عوامل څه وو؟ پدې باندې پوهېدل په کار دي .

ما فکر وکړ چې زموږ کشمیر د وهم افغانستان دی په شمېرکي هم مسلمان مجاهدین په جها د بوخت دي هلته هم مسلمانان شهیدان کېږي او تېپیان کېږي، خلک جېلونو او د شکنجې ځایونو ته اچول کېږي، هندي استعمار هلته د مسلمانانو عزت تر پښو لاندې کړې، په دې فکر کې ډوب وم او د هغه جوماتو خوا ته روان وم کوم چې یوه ورځ وروسته د دښمن د بمبارۍ له امله شهید شو . د ماسپښین لمونځ تر ادا کولو او قرآن عظیم الشان تر تلاوت کولو وروسته د جلال آباد د ښار په شته غرونو او شنو ښکلیو دلو لیا رو او وتلم کشمیر مې په زړه شو، زړه مې نه قرارېږي او د سترګو څخه مې د غربا دا وښکي وبهېدې نا څا په زړه له تله د کاشنا تورب ته عرض وکړ ای زما د مهربا نه ربه ! د نن ورځې وروسته زما د اجها دی چې ما ته دا توفیق را کړې تر څو د کشمیر په ښکلو غرونو او ښکلو او زمونږ د لو د ونکو د روکي جها د پیل کړم او پدا سې حال کې وو ژل شم چې شورا وولولو ته کیني وبالي او نغمې غږونکې مرغۍ ګوا ه وي . چې زه د خپل هیواد په دا سې ... لکه څنګه چې زموږ ګران پیغمبر ... سره کوله زموږ ګرانې پېغمبر (ص) ... څخه د هجرت په وخت کې خوا به مخ را اړوه او غږي کړچې ... زه تا په ...

خوښې ته پریږدم ، دا د دې ځای د ظالمانو دلاسه دي چې زه نې هجرت ته مجبور کړم . آخوزه ولې د خپل هیواد په آزا دی باندې قربا ن نشم چېرته چې زما په لګها و د ینې وروته د ذلت ژوند تېروی چېر ته چې زما مېندې او خویندې د غما و درد اوښکې تویوی چېرته چې زا هدان او عابدا ن دعا کوي چې اې خدایه ! زمونږ د ملاتړ لپاره څوک ومه د له پیدا کړه .

د بلال په قرارګاه کې د لس یولس شپو تر تېرولو وروسته زه د جنګ په ډګر کې د نورو مجاهدینو سره نوځای شوم او د خپل ګران کور به سره مې د خدای په امانتی په نیت د نورو مجاهدینو خوا ته حرکت وکړ، دروږه مانتی په وخت زه د حزب اسلامي یوې قرارګاه ته ورسیدم ، هلته څو د عرب و مسلمانا نو ورور ته هم و، څو د یمن او شید ونکې هم و او یو فلسطیني څوا ن دا مریکا څخه راغلی و دلته مې د شپې تر تېرولو وروسته په دوهمه ورځ ځای په ځای د نورو مجاهدینو سره ملیدنې وکړې، دا تګ سیمې یوه مجاهد زما پرسر د جا ځ ګولۍ ولګیدو او را سره یې خبرې پیل کړې، هغه وویل : نن موږ څو مجاهدینو د دې ورا ندې مورچو سا ته ګولۍ چې تا ځای د دښمن پنځه شپږ تا نکونو ز موږ شا او خوا محا صره کړه، پدې شرځ کې قوماندا ن بلال او د حزب اسلامي یو قوماندا ن هم مجاهد سره شول سخت جنګ و شبت د تا نکونو ګولې د با را ن په دول وریدې، یوه مجاهد په ډېر افسوس سره وویل :

برون د ری مجاهدین شهیدا ن او شپږ تېپیا ن شول په شهیدا نو کې قوماندا ن بلال او د حزب اسلامي قوماندا ن هم شا مل و . د قوماندا ن بلال د شها دت خبر په اوریدلو سره زه د ېر وخت بې خوده شوم ، د سترګو څخه مې اوښکې وبهېدې . او د زړه له تله مې غږ ووت چې د ګرا ن ورور بلال عظمت ته سلام ، بنا یې بلال به د شها دت هیله کړې وه د ا سې د همت خا وندا ن ډېر کم دي چې په ظا هرا و با طن کې د سرې کور به ښوب وکړي بنا یې بلال په الله (ج) ته دعا کړې وه چې زما دوست او میلمه روغ ، رمټ وساتې مګر د کور به د ځا ن په قیمت . مرحبا اچې د با طنې نړۍ نور ته عشق هم تسلیم دی . بلال دا سې مجاهد و چې د هغه په لیدلو سره مې ... او حنین مجاهدین یا د ته را غلل بلال شهید شو خو په سلها و مجاهدینو کې د غچ اخیستلو جذبه را ژوندی شوه ، د هغه جذبه زه یې په ورځه ولیدله ... او هلته په ...

مهاجرینو او مجاهدینو د هغه د جنا زې په مراسمو کې ګډون وکړ چې په هغوی کې انجنیرا حمد شاه هم و ، هلته د شهید بلال په سلها و ملګرو وروڼه او دوستا ن د هغه په حق کې لاس په دعا شول ، بلال په جلال آباد کې پیدا شوی و ، مګر هغه په پښا ور کې د مهاجرو په یوه کمپ کې ښخ کړای شو . آخر دا ولې؟ هو ! د دې لپاره چې د بلال قبر د بلال قوم ته حرکت ورو بښي .

الله تعالی ما ته د جنګ په ډګر کې هغه جذبه را وبښله چې د خدای په کور کې یې انسان ته میسرېږي ، د عشق لمونځ ... تو زو په ښوري کې اداشو ، د الله (ج) او رسول (ص) سره لیدنه پدې ځای کې کېږي .

هو ! چې قوم آزا دوي د ا من چاپېریال ... مسلکا باندې امرا رجا ئز نه دي بیا د کعبې تر څنګ د رسول (ص) روضې سره لیدل سم او جا ئز کار دي، مګر د مغلوبیت په حال کې د مکې او مدینې سره د اویس قرني غوښتنې معنوي اړیکو ټینګول په کار دي .

د قرآن کریم حکم دی : " را ووځئ ! او د خدای په لارکې په مال او ځان سره جها د وکړئ، که هر څو مره توان لرئ " جها د فرض عین دی زموږ ګرا ن هیوا د پر د یو اشغال کړی زموږ زیات مجاهد وروڼه په اشغالي کشمیر کې د هندوا نو په جېلونو کې اچول شوي، کوم مظلوم او محکوم کشمیر یا ن چې د رسول (ص) د لیدو او شفاعت تمه لري هغوی دې د تورو او ټوپکو په سیوري کې د ژوند تېرولو نیت وکړي ، بیا وروکېږو کوم عبادا نو ته چې خشوع او خضوع په کعبې شریفې کې میسره وي دا فضیلت مجاهدینو ته دا نعمت د جنګ په ډګر کې دګولیو او بمونو په مینځ کې نصیب شوی .

د جلال آبا د جنګ په ډګر کې مجاهدین په اطمینا ن سره لمونځ ، روژه او تراویح کوي، د هغوی زړونه مطمئن او خبرې ښکلې دي، سترګې یې د الهي عرش خوا ته متوجه دي په یوه لاس کې تسبیح په بل کې وسله، ونیستا ن یې له خا وروڅه ، جا مې یې توتې توتې او سترګې یې لمونځ کولوکې ، هلته به د لمونځ ، ذکرا و فکر د پرمخښتیا او ولولې تېښتیا ځای دي، دا یتول د مجاهدینو د ولت دی . او په دې باندې هغوی هم نازېږي .

د جلال آبا د د جنګ په ډګر کې ما تېښته د دې خبرې معلومات هم وشو چې الله (ج) مسا تې لپاره کافي دی ، او پدې کار کې

فرشتي هم خپله برخه اداکوی، دجنګ په
دګرکي هری خواته ماشینداری چلیږی د
ټانکونوا وتوپونوګولی وریږی، الوتکی
بمونه غورځوی، مګرمجاهدینوزیاتره
سیمی الله (ج) ساتی، دجلال آباد په
جنګکی دپښتو، اردوا وعربی ژبودیوتکي
داسی دیوه‌بل سره یوځای کیږی کله‌چی
ګونګیان سره یوځای کیږی، ګونګیان
داشاروا وځینوځاصو غږونو په‌کولوسره یوه
بل ته دزړه خبره رسوی، پدی دول دپښتو،
اردوا وعربی ژبوویونکوهم‌په‌اشاروا وعام
فهمه الفاظو یوبل پوهاوه. مادجنګ په
دګرکی داسلامی‌امت غربت احساس کړ، دا
ملت ددینی اودنیوی علوموځخه شاته
پاتی دی دا ملت نه‌کومه مشترکه‌ژبه‌لری
اونه ورسره داسی ساینسی تکنالوجی

علاج لپاره پشاورته راروان وو، داځومره
دافسوس‌ځای دی چی داسلامی نړی ځخه
یواځی ځلوروهیوادونودمجاهدینوعبوری
حکومت په‌رسمیت پیژندلی، داسلامی نړی
دی بی اتفاقی ځخه ددین دسمنان لاقوی
کیږی داحال دکشمیرهم دی دکشمیر
مجاهدین دځلورویشت کالوراهیسی،
جهادپه‌بانډی بوخت دی، مګراسلامی نړی
ته معلومه‌هم نه‌دی چی کشمیردنړی په
کوم ځای کی دی، اوهلته ځوک اوسیږی
دهغوی ځه‌ستونزی دی آیادوی په‌داسی
حال کی چی په‌خپلوسترګودا سرائیلو او
روسانوګډګزا یم ګوری ولی اسلامی نړی
نه متحدوی؟ آیادوی دهغدودتخریبی
عملونوسره سره‌ولی دهوښیاری ځخه کار
نه‌اخلی؟ الله (ج) دې‌رحم وکړی الکله‌چی

اووی ویل: داپنځلس ورځی می دیاده
نه‌وی وتلی" دی دمحبته ډکی جملی نه
داچی دافغان مجاهدینوځینوکمپودیو
کفاره اداکړه، بلکی دکشمیریانولوا و
افغانانودوستی یی لاټینګه‌کړه.
درنګ اووینی بناڼ ماتکړی په‌یوه‌امت
کی راټول شی.
چی نه‌رانی پاتی کیدونکی دی نه‌ایرانی
نه‌افغانی.
ددی ملت اصلی کاردادی چی‌داسلامی
امت دراژوندی کولولپاره هلی ځلی
وکړی، اودازما دهیلوا وغوښتنو، نهائی
مقصد دی، پدی کی زموږدټولونارو غیو
رازپروت دی، اوپدی کی زموږددنیوی
اوآخروی نجات اورستګاری رازنغښتی

**دجلال آباد جنګ په‌دګرکی مجاهدین په‌اطمینان سره لمونځ، روژه او
تراویح کوی، دهغوی زړونه مطمئن اوځیری روښانه دی، سترګی یی د
الهی عرش خواته متوجه دی په‌یوه لاس‌کی تسبیح په‌بل‌کی وسله، ویښتان
یی له‌خاوروډک، جامی یی توتی توتی اوسترګی یی له‌وښکوډکی، هلته‌د
لمونځ، ذکراوفکردپرمختیا اولوړتیاځای دی، داټول دمجاهدینودولت
دی. اوپدی باندی هغوی هم نازیږی.**

**هو! چی قوم آزادوی دامن چا پیریال میسروی نودآویس قرنی پرمسلک
باندی اصرارجائزنه‌دی بیادکعبی ترڅنګ درسول (ص) روضی سره‌لوید ل
سم اوجائزکاردی، مګردمغلوبیت په‌حال کی دمکی اومدینی سره‌دآویس
قرنی غوندی دمعنوی اړیکوټینګول په‌کاردی.**

شته چی ده‌په‌زرها وځیته‌جګوآلوتنکوآلوتکو
خواب وربانډی ورکړی، آلوتکی راشی
اوپه‌آرامی سره دمجاهدینوپه‌مورچلو
بمونه غورځوی پس‌تش‌که الله (ج)
دمجاهدینوملاترونکړی مجاهدین بی وسی
کیږی دالله (ج) فضل اوکرم‌دهغوی په
حال دی ټول مجاهدین په‌پوره‌اطمینان
سره دجنګ په‌دګرراټول وی.
دجلال آباددجنګ له دګرځخه‌تراستیدلو
وروسته می شل کیلومتره پیاده‌سفر
وکړه‌زماسره دګجرات‌سیمی یومجاهد
اسلم هم وو، اسلم په‌پښتوا وفارسی
باندی هم خبری کولی شوای اسلم دمجا-
هدینوسره ځلورکاله‌تیرکړی وو دعربانو
موټرموټرطورخمه راورسولو، دا سلم‌سترګه
دجنګ په‌دګرکی ټپی شوی وه، دوی دهغه‌د

پشاورته ورسیدم اوځپل ګران کوربه
انجنیراحمدشاه‌سره یوځای شوم نوهغه
په‌غیرکی ټینګ ونیولم اودیرخوشحاله
شو، موږدواړودماښګرلمونځ داتحاد
اسلامی په‌جوماتکی اداکړه، دلمانځه‌ځخه
وروسته ماانجنیراحمدشاه‌دمجاهدینو
ځینوستونزوځخه خبرکړ، اودهغوی د
ستونزودحل لپاره می ځه‌وړاندیزونو
ورته وړاندی کړل، په‌دوهمه‌ورځ ماد
نوروجاهدینوسره‌یوځای دعیدلمونځ د
اتحاداسلامی په‌جوماتکی اداکړه، پدی
جوماتکی تقریبا" دیرش زره‌مجاهدینو
اوهماجرینوپه‌جمعی لمونځ وکړ، عیدپه
دیری سادګی سره ونمانځلی شو، دجلوزو
کمپ ځخه درخصتیدوپه‌وخت زه‌خپل
مشروروانجنیراحمدشاه مخاطب کړم

دی.
جګ شه چی دنړی بزم بل رنګ غوره‌کړی
په‌لویدیځ اوختیځ کی ستادورپیل
شوی.

زموږ مسلمان ملت د ټولو روانو دردوونکو فاجعو او مصیبتونو عامل ظاهرشاه ګڼي



د حزب اسلامي افغانستان امیر مجاهد ورور (حکمتیار) بلوچستان اوکندهارته له خپل سفرنه تر راستنیدو وروسته د خبرګولي په (۱۲) مه نیټه (شهادت) ته دیوي مرکي لپاره وخت ورکړ د یشفق مجلي اداره هم د موضوع د اهمیت له امله مناسب وګڼله چې د نوموړي مرکي بشپړ متن په لاندي توګه ګرانو لوستونکوته وړاندي کړي :

* * *

شهادت : په دي وختونو کي داسي فکر کیږي ، چي د کندهار له لاري افغانستان ته د پخواني پاچا ظرهرشاه د راوستلو توطیه ترکار لاندي ده او لویدیز خبري او اطلاعاتي وسیلي هم پرڅانګړي چټکتیا او دلچسپي سره پدي جهت کي کار کوي او هم په دي ورځو کي لدي واقعیت نه خبري کیږي چي د یوه تنظیم نږدي خپل او همکار له هغي لاري کابل ته تللي و،تاسي چي د حالاتو د نږدي لیدو او چارو د سمون لپاره هلته سفر درلود هیله ده د حقایقو په باب به رڼاواچوي !

(ورورحکمتیار) په دي کي هیڅ شك نشته چي ځیني ملکونه په افغانستان کي د مجاهدینو په لاس اسلامي حکومت جوړیدل د خپلو ګټو لپاره خطر ګڼي او په ټول طاقت هڅه کوي چي د مجاهدینو د حکومت د تاسیس مخه ونیسي روسان هم اوس په دي پوه شوي چي د نجیب حکومت د بقاچانس نلر ي هغه له ډیري مودي را پدیخوا غواړي چي د نجیب حکومت تعویض شي .

روسان پدي ټینګار کوي چي باید کمونیست ګوند په راتلونکي حکومت کي فعاله برخه ولري خو ځیني غربي هیوادونه په دي کوشش کي دي چي ائتلافي حکومت په ځاي یو داسي حکومت جوړ کړي چي نه په کي مجاهدین برخه ولري او نه کمونیستان،د دي دواړو طرفونو له کوشش نه داسي معلومیږي چي د داسي حکومت لپاره دوي له ظاهرشاه پرته بل څوك په اختیار کي نلري .

زما خپل معلومات داسي دي چي د دواړو طرفونو تر مینځ اختلافات پردوو خبرو کي دي:لومړي د دي حکومت جورست او په هغه کي د هر طرف سهم اوبرخه او بل د هغه د راوسپتو لار ـ که ظاهرشاه د ماسکاو یاهند له لاري راځي نو انجام به یي له نجیب سره

تفاوت ونلري او ملت به یي د نجیب جانشین گڼي د ایران له لاري یي هم د راتلو چانس کمزوري دي ، د پاکستان پخواني حکومت دي خبري ته تیارنه و خو د اوسني حکومت په باب په یقین سره څه نشم ویلای؛ ولی دا ویلای شم چي که پاکستان د دي خبري منلوته چمتو شي دا به یي ستره اشتباه وي ـ انګریزان غواړي چي هغه (ظاهرشاه) د نادرخان په څیر کابل ته ورسوي نادرخان یي د (پاړه چنار) له لاري د مسعودو او وزیرو په لاس او دي د کندهار له لاري د ځیني هغو وطنفروشو ملکانو په مرسته ورسوي چي د پخوانیو حکومتو تنخواه خواره وو که څه هم د دي لپاره زیات کوششونه کیږي خو د بري چانس یي ډیر کمزوري دي .

د کندهار مؤمن ولس په تیره د دراني قوم میړني مجاهدین دا تاریخي پیغورنه مني چي د خاین او پردیو د لاس آلي واکمن د تحمیل په توطئه کي دي ملوث او شهادتونه اومجاهديَ یي ضایع شي د کندهار مجاهدین دي قوم فروشانوته حتی د جلسي چانس هم نه ورکوي ـ تاسي به د سرخاب د جلسي په هکله معلومات لري چي مجاهدینو متلاشي کړه . مادا اوس اوس یو ځل بیا د کندهار حالت له نږدي ولید ، زه د کندهار د وضعي په باب بوره داډ او اطمینان لرم د کندهار مجاهدین د اسلامي نظام مخلص پاسداران دي او له اسلامي حکومت نه پرته په بل شي نه راضي کیږي .

ماته په کندهار کي زیاتو قومندانانو په واضحو الفاظو وویل چي موږ به هیچاته د دي موقع او اجازه ورنکړو چي کندهار پداسي توطیو بدنام کړي .

هغه څوك چي له کابل رژیم سره د همدي توطیي په عملي کولو کي ناسته ولاړه کړي خپل اعتبار یي له لاسه ورکړي او مجاهدین تري خواره شوي اونورو تنظیمونو ته روان دي ما څو مطرح او مشهور قومندانان ولیدل چي په همدي خاطر حزب ته راغلل هغه کسان چي کابل ته تللي و ما د ولس اومجاهدینو په مینځ کي د هغوي په باب ژوره کرکه او نفرت احساس کړ او هغه کسان چي تللي و هغوي هم د ځان د تبرئه کولو زیار ایست او کوشش یي کاوه چي وښیي ، لدوي سره چل او خدعه شوي،داسي چي لومړي ورته ویل شوي چي د کندهار والي ورته تسلیمیږي او بیا پداسي حالت کي کابل ته بیول شوي چي زړه یي نه غوښتل .

زما عقیده دا ده چي شاید الله (ج) ته دا منظوره وي چي د انقلاب په وروستي مرحله کي هغه ناولي څیري بربندي کړي چي نن د مجاهدینو په لیکوکي پټي پاتي دي دا د الله (ج) سنت دي چي د جهاد په نتیجه کي به خاماخا مؤمن او منافق سره بیلوي ، دا د تفکیك او تمیز عملیه به ترهغه روانه وي چي د مخلصو مجاهدینو له صفونو څخه د نفاق وروستي جرړي هم قطع شي .

شهادت : د مخکیني اټکلونو او توقعاتو پرخلاف په هیواد کي د مجاهدینو لخوا جګړه ډیره پراخه او تشدید نشوه ، او د نجیب مزدور رژیم لاتروسه ندي نسکور او دغسي حالت د هغو طرفونو د ګټو اواهدافو په مصلحت دي چي دْ مجاهدینو د جګړه ایز او پوځي ځواك اوموقعیت د برلاسیتوب او پیاوړتیا په صورت کي د خپل خوښي د لارو چارو تکلیف په سختو مشکلاتو کي کوري ایا پدي جهت کي خو څه پټو او مرموزو لاسونو کار ونکړ ؟

وروړحکمتیار : د روسي پوځونو د وتوتر بشپړیدو وروسته د کابل د رژیم د فوړي سقوط نه کولو او د څه مودي لپاره یي بقا څو وجوهات لري : لومړي دا چي روسي پوځونه د ژمي په سخته یخنی کي ووتل او معمولاً د ژمي له یخني سره په سړو سیمو کي د مجاهدینو عملیات له مشکلاتو سره مخامخ وي یواحي په کندهار او ننګرهار ولایتونو کي د مجاهدینو لپاره د جګړي شرایط برابروو د کابل رژیم فرصت ترلاسه کړ چي خپل زیات قوت جلال آباد او کندهار ته ولیږدوي او بالآخره د جلال آباد جګړه اوږده شي.دویمه وجه یي دا ده چي اوّس د کابل رژیم په ښارونو کي کلابند شوي دي او هلته یي د ښار له خلکونه د ځان د دفاع لپاره سدجوړ کړي او مجاهدین نه غواړي چي په ښارونو باندي دي د شدیدو بریدونو په نتیجه کي بی ګناه ښاریانوته تلفات ورسیږي،بلکي د تدریجي پرمختګ غوښتونکي دي موږ ته دا اوس هم په کندهار کي لویه ستونزه اومسئله داده چه خلك له ښارنه ووځي او بیا د ښار د آزادیدو لپاره عملیات پیل شي د کابل رژیم اوس فقط په ښارونو کي محصور دي او په سلوکي ترپنځه نوي زیات افغانستان د مجاهدینو په لاس کي دي سره لدي چي روسي پوځونه په ژمي کي ووتل او رژیم مجبور شو چي خپل ټول قوتونه ښارونو ته راټول کړي .

خو وموليدل چي د همدي ژمي په سختو یخنیو کي پنځه ولایتونه او تردووسوونه زیاتي ولسوالي آزادي دي دریمه دا چي موږ پدي ځانګړي جنګي پړاو کي چي د ښارونو د آزادیدو عملیات په مخ کي لرو ترپخوا زیاتو مهماتو ته ضرورت لرو متاسفانه چي موږ د مهماتو له قلت سره مخاخ یو .

پدي باب صریح وایم چي ممکن دا دهغو طرفونو یوه دسیسه وي چي د هغوي سیاست دا دي چي غواړي د

افغانستان قضیه د جګړې په ډګر کې حل نشي څکه د
جګړې په ډګر کې د قضیې حل د بهرنیو لاسو هغه
چانس ختموي هغوي غوښتل چې قضیه دې له مسکو
سره د تفاهم له لارې او د یوه داسې حکومت په راوستو
حل کړي چې په بهرنیو طاقتونوپورې تړلی وي د کابل
رژیم د بقا د ځه اوږدېدو مهم عوامل همداوو .
الحمدالله لدې تولو سره سره ښه پراخ عملیات ترسره
شوي ، په جلال آباد کې ، کندهار کې نیمروز کې
خوست کې ، د کابل شاوخوا او کې شمیر نورو سیمو
کې شدید عملیات شوي او روان دي که زموږ د مهماتو د
کمښت مشکل نه واي اوس به ډیر پوځي پرمختګ شوي
و .

شهادت : څو ورځې د مخه د پاکستان یو مهم
اومشهور علمي شخصیت د یوې لویې غونډې په ترڅ
کې پرخپلو هیواد والو غږوکړ چې نن (حکمتیار) په

شهادت : پداسې حال کې چې اوس موږ له یولړ
مسلمو مشخصاتو سره د مجاهدینو انتقالي حکومت
چې د نجیب ترنسکوریدو وروسته به په هیواد کې د
چارو واګې سنبال کړي خو د پاکستان صدراعظم اوس
هم د یوه پراخ بنسته حکومت له جوړیدونه خبرې کوي
که پدې باب رڼا واچوې ؟
ورورا (حکمتیار) : زموږ حکومت له پراخې قاعدې نه
برخمن دی او تردې نه د پراخې قاعدې حکومت
تصورنشي کیدای په پاکستان کې د یوې دلې حکومت
دې خوموږ د اوو تنظیمونو حکومت جوړ کړي .
ما د پاکستان مسئولینو ته وویل چې زه ګومان نه کوم
چې دومره ایثار او خود ګذرې دې بل څوك ولرې چې
اوه تنظیمه دې پداسې حال کې کډ حکومت جوړ کړي
چې د قوت ، د افرادو نفوذ او موثریت د ټول تفاوت له
پام نه په غورځولو دې ټول د مساوي رایې حق ولري او

موږ ډیر شهیدان ورکړي دي ، د شهادتونو په نتیجه کې دا امت او ملت نه کمزوریدای شي اونه ختمیدای زموږ ډیر باسابقه او برجسته

